د افغانستان اسلامي امارت

د لوړو زده کړو وزارت

د افغانستان د کرنیزو علومو او ټکنالوژي ملي پوهنتون

د حیواني علومو پوهنځی ریاست

د ستراتیژیک پلان د تدوین، توحید، تطبیق او څارنې کمیټه

# د حیواني علومو پوهنځی ستراتیژیک پلان

## (۱۴۰۱ – ۱۴۰۵ هـ ل.)

ترتیب کوونکي : د ستراتیژیک پلان د تدوین، توحید، تطبیق او څارني کمېټه سنبله - ۱۴۰۱ ل.

بسم الله الرحمن الرحیم

# لیک لړ

Contents

**د  حیواني  علومو پوهنځی د رئیس پیغام ........................................................ 1**

۱. ستراتژیک مفهومونه................................................................................ 2

**۲. سریزه ....................................................................................................... 5**

۳. د انستو پوهنتون پیژندنه.......................................................................... 6

۴. دحیواني علومو پوهنځي پیژندنه................................................................ 7

۴.  د پوهنځي تشکیل.................................................................................... 7

۱.۵.  د  حیواني  علومو پوهنځي تحصیلي نصاب ...................................... 10

**۲.۵. د پوهنځی ستراتیژیکی موخی........................................................... 10**

۴.۵. اداره او  رهبري.................................................................................. 12

۵.۵. مالي او علمي خپلواکي........................................................................ 13

۶.۵. د فساد پر وړاندې مبارزه..................................................................... 13

۷.۵. د کار کونکو  د استخدام او د هغوي د کړنو څخه نظارت کول............ 13

۸.۵. د آزموینو د اخیستلو، ارزولو او څیړنیزو چارو نظارت کول ............. 13

۹.۵. د اسلامي ارشاداتو او قوانینو په رڼا کي د اداري فساد په اړه پوهاوی لوړول ............ 14

۱۰.۵. محصلانو ته د اداري فساد سره د مبارزي په اړه شرعي او قانوني معلومات ورکول .......... 14

**۱۱.۵. د تحصیلی نصاب بیاکتنه، تدوین او پراختیا:........................................... 14**

۱۲.۵. د تحصیلي موادو چمتو والی.................................................................. 15

**۱۳.۵. د پوهنځی د کیفیت د ښه والي لپاره څارنه او ارزونه تر سره کول: ............ 15**

**۱۵.۵. د بربنبنایي زده کړو پراختیا او معیاري کول:......................................... 16**

۱۶.۵. الکترونیکي خدمتونو وړاندي کول.......................................................... 17

۶. تاسیساتي پراختیا ....................................................................................... 17

**۷.  د علمی کادر غړو او اداری کارمندانو ظرفیت لوړول: ................................ 18**

**۸. له زیدخل ادارو سره د اړیکو پراختیا او ښه والي: ......................................... 19**

۹. د مرستو جلبول ......................................................................... 19

**۱۱. د استعدادونو وده او پراختیا: ......................................................... 20**

۱۲. د کریدیت سیستم پیاوړتیا او پلی کول ........................................................ 21

**۱۳. داخلي او بهرني چاپیریال ارزونه ......................................................... 21**

۱۴. د پوهنځی لپاره د سوات تحلیل (SWOT Analysis) ............................................ 22

SWOT Analysis ......................................................................... 23

A. قوي ټکي (Strength) ...................................................................... 23

B. کمزوري ټکي (Weaknesses ) ............................................................. 23

C. فرصتونه (Opportunities ) ................................................................ 24

D. ګواښونه (Threats ) ...................................................................... 24

۱۵. د ستراتیژیک پلان د تطبیق پایلې: ........................................................ 25

۳. جدول: د الویتونو په ترتیب د ستراتیژیو لیست ................................................ 28

۱۷. د حیواني علومو پوهنځی د (۱۴۰۱-۱۴۰۵ل.) کلونو د انکشافي بودجې د اړتیا اندازه ................. 67

۱۸. د حیواني علومو پوهنځی د ستراتیژیو څارنه او ارزونه ............................................ 69

۵. جدول: د ستراتیژیک پلان د ارزوني چک لیست .................................................. 69

## د  حیواني  علومو پوهنځی د رئیس پیغام

الحمدالله رب العالمین و الصلاه و السلام علی سید المرسلین و علی آله و اصحابه اجمعین، اما بعد

ډېر خوښ یم چې د  حیواني علومو پوهنځي د رهبري په استازیتوب د نوموړي پوهنځي د راتلونکو پنځو کلونو ( ۱۴۰۴-۱۴۰۱) لپاره ستراتېژیک پلان ستاسو حضور ته وړاندي کوم، چې د حیواني علومو پوهنځی د ټول ټیم له پرله پسې نه ستړي کېدونکو هلوځلو او سختیو څخه وروسته په ډېره لنډه موده کي په بریالیتوب سره تکمیل شو، د دې ستر کار د تر سره کېدو په مقابل کي د حیواني علومو پوهنځي د ټول ټیم څخه د زړه له کومي مننه کوم.
یو مشهور فرانسوي لیکوال انټوان وایي « بدون له پلانه موخه یوازي یوه هیله ده » نو په دې اساس موخو ته د رسېدو لپاره تر هر څه دمخه ټینګ هوډ او بیا دقیق پلان اړین دي. له سوداګریزه اړخه ستراتیژي یو ډول پلان دی چې په مارکېټ کې د موخو د ترلاسه کولو لپاره ډیزاین شوي وي او همداراز یې په ستراتیژۍ کې د سازماني اهدافو او موخو ته د رسیدو لاربښوونې ځای پر ځای شوي وي. که په لنډه یې ووایو. دا یو تشریحي پلان دی چې کمپنۍ، اداره یا دستګاه ته لاربښوونه کوي، څو خپل اهداف ترلاسه کړي .د دې ستراتېژیک پلان په طرح او جوړولو کي هڅه شوې تر څو د حیواني علومو پوهنځي په راتلونکو څو کلونو کي به یوه پرمختللي تحصیلي پوهنځي وي د کیفیت د لوړاوي ټول معیارونه به یي پلي کړي او د یو ځانګړي اعتبارلرونکي وي.
دا چې لوړې زده کړي یوه ټولنیزه ښېګڼه ده نو اغېز یې هم په ټولنه، د ټولني په اقتصاد او چاپېریال کي ښه درک کېدلای شي، چې په دې برخه کي به حیواني علومو پوهنځي په ګران هیواد افغانستان او په خاصه توګه لویدیځ زون کي د راتلونکو پنځو کلونو په جریان کي او تر هغه وروسته په ټولنه کي خپله مثبته اغېزمنتیا د همدې ستراتېژیک پلان او خپلو ژمنو په پلي کولو سره څرګنده او ثابته کړي، چې د هیواد ځوان نسل به د عصري او معیاري لو ړو زده کړو او پوهي په ګاڼه سمبال ټولني ته وړاندي کړي.
دا چې هره لویه لاسته راوړنه او بریا لیټوب په کلک هوډ، اوږد مهاله پلان او د هغه پلان د پلي کېدو په برخه کي د هغه کس یا ادارې د مقاومت او استقامت نتیجه وي نو په دې اساس، د حیواني علومو پوهنځي ستراتېژیک پلان هم زموږ د ټینګ هوډ او اوږد  مهاله پلان یوه نمونه او پیغام دي چې غواړو ټولو ښکېلو اړخونو ته یې د لا زیات ډاډ په موخه ورسوو.

**په درنښت**

**د حیواني علومو پوهنځی رئیس**

**پوهنمل عصمت الله رسا**

**۱. ستراتژیک مفهومونه**

**مفاهیم:** د ستراتیژیک پلان د برنامې پلي کېدل چي د پوهنځی د چارو د سمون او پرمختګ لپاره ډېر اړین دي. په لاندې کرښو کي به د برنامې هره برخه تعریف او وسپړل شي.

**پروګرام:** پروګرام د موخو ترلاسه کولو لپاره یوه طرحه او نقشه ده چي د اړینو سرچینو، مهالویش، دندې او نور کړنې څرګندوي. د پروګرام موخه، وخت، د چا له خوا کومې مرجع ته او په څومره وخت کي باید عملي بڼه او اغیز وښایي.

**ستراتیژي:** یوه ځانګړې طرحه ده چي د پوهنځی د موخو د لاسته راوړلو لپاره د یو ځانګړي فکر او څرګندې موخې پر بنسټ په اکاډمیکو ساحو کي عملي کیږي. هره ستراتیژي په خپله کاري ساحه کي د ځانګړې پالیسی او موخې پر بنسټ پر مخ وړل کیږي، په یاد پروګرام کي ټولې ستونزې جوتې کیږي چي د حل او پرمختګ لپاره یې ځېني پلانونه او طرحې جوړیږي.

**ستراتیژیک پروګرام:** په دغه ستراتیژیک پلان کي لومړی د ځانګو په کچه ستونزې، وړاندیزونه او ځېني طرحې ذکر کیږي او بیا ورته په ټولیزه بڼه د پوهنځی په عمومي ستراتیژیک پلان کي د یو منظم میکانیزم له مخې د حل لاره لټول کیږي.

**ستراتیژیک پلان:** ستراتیژیک پلان یو داسې علم، هنر او د مدیریتي پریکړو ټولګه ده چي سمون شوو موخو ته د رسېدلو لپاره محیطي لاملونو ته په پام سره ترسره کیږي.

**سمون:** سمون د ستراتیژیک پلان یو پړاو دی چي لاندې برخې لري.

د لید لوري ځانګړي کول، ماموریت، ارزښتونه، موخې، محیطي عوامل (داخلي او خارجي) د ستراتیژیک حالت او ممکنه ستراتیژیو ټاکل د لومړیتوبونو تعین او پیژندل.

**کړنه:** د ستراتیژیک پلان دویم پړاو دی چي لاندې برخې په کي شاملې دي.

د ستراتیژیکو لومړیتوبونو ټاکل، د لنډ مهالو موخو معلومول، کلنی عملي پلان، د بودیجې سمون، د پوهنځی د فزیکي جوړښت لپاره طرحې، د اجرائیوي پالیسیو سمون، د پوهنځی رهبری د لارو چارو ټاکل او د سرچینې ځانګړي کول.

**ارزونه:** ارزونه د ستراتیژیک پلان دریم پړاو دی چي د لوړو زده کړو د معیارونو او پالیسیو سره سم د پوهنځی د کړنو د عملي کولو لپاره یو میکانېزم جوړیږي.

**لیدلوری:** د یو پوهنځی ذهني یا تجسمي انځور ته وایي چي غواړي د خپلو کړنو په پایله کي یې تر لاسه کړي.

**ماموریت:** د پوهنځی د شته والي یو داسې ذریعه ده چې له نورو پوهنتونونو سره یې توپیر په ډاګه کوي. ماموریت باید روښ او د پوهنځی چارو ته د پوهېدلو او منلو وړ وي.

**موخه:** عبارت له هغو ټکو څخه ده چې د ټولو اکاډمیکو کړنو پایله اخستنه ترلاسه شي. موخې باید د لاسته راوړنې او ننګونې وړ وي او یو ټاکلی وخت په بر کې ونیسي او د څېړنې لارې چارې یې باید ځانګړې وي او دغه موخې تر ډېره باید پاشلي نه وي.

**ارزښتونه:** ارزښتونه په خپله د پوهنځی منل شوي اصول دي چې د دې پر بنسټ د پوهنځی ماموریت او موخې ترلاسه کیږي. په ټوله کې د پوهنځی ارزښتونه هغه اصول او لارښوونې دي کوم چې د پوهنځی د پرېکړې نیولو، پراختیا او حرکت لوری ټاکي.

**سواټ (SWOT):** سواټ د پیاوړتیاوو (Strengths)، کمزورتیاوو (Weakness)، فرصتونو (Opportunities) او ګواښونو (Threats) مخففه بڼه ده. او دا تګلاره د استراتیژیو  د تدوین او چمتو کولو د ابزارو څخه ګڼل کیږي. له دې تحلیل څخه په ګټې اخستنې دا امکان برابرېږي چې لومړی داخلي او خارجي چاپیریالونه په کې تجزیه او تحلیل کیږي، او په دویم ګام کې ستراتیژیکي پرېکړې نېول کیږي تر څو د ادارې پیاوړتیاوې له محیطي فرصتونو سره متوازنې شي.

**د پیاوړتیا ټکی:** له ممتازې وړتیا څخه عبارت ده چې په وسیله یې یوه پوهنځی د مالي سرچینو، د اخېستونکو تر منځ ذهني مثبت انځور او د تامینوونکو سره مثبتې اړیکي او نور ګڼ اړخونه په پام کې نېول کیږي.

**د کمزورتیا ټکی:** په سرچینو، مهارتونو، امکاناتو او وړتیاوو کې یو ډول کموالي او محدودیت څخه عبارت دی چې په محسوسه توګه د پوهنځی د کړنو د اجرا مخنیوی کوي.

**فرصت:** د هر ډول بهرني عامل څخه عبارت دی چې د پوهنځی سره د ماموریت په لاسته راوړلو کې مرسته کوي. یا په بل عبارت فرصت یو پټ ظرفیت دی چې ورڅخه په ګټې اخستنې سره پوهنځی مثبت لوري ته وده کوي او پوهنځی لپاره د لېدو وړ خواره لري.

**ګواښ:** د پوهنځی په بېروني چاپیریال کې د نامطلوبې بریا میزان ته وایي لکه د بنسټیزو تامینوونکو او اخېستونکو د چنو وهلو وړتیا، د ټیکنالوژۍ د ناڅاپي او عمده تغییر او نور موارد چې کېدای شي د پوهنځی په لاره کې عمده ګواښ وګڼل سي.

**بریدګره ستراتیژیګانې (SO):** پوهنځی د دې ستراتیژیو په چوکاټ کې د داخلي پیاوړو ټکو څخه په ګټې اخېستنې سره هڅه کوي چې له شته فرصتونو څخه ګټه پورته کړي.

**ځان ساتونکي ستراتیژیګانې (WO):** له دې ستراتیژۍ څخه موخه د شته فرصتونو څخه په ګټه اخېستنې داخلي کمزورو ټکو ته پیاوړتیا ورکول دي.

**د کمیتي ستراتیژیک پلان جوړونې ماټریکس:** Quantitative Strategic Planning Matrix (QSPM): له دې تګلارې څخه په ګټې اخستنې د ستراتیژیګانو بېلابېلې برخې پېژندل کیږي او د پلې کېدو پر مهال د ارزونې لاندې نېول کیږي. دا ماټریکس د هرې ستراتیژۍ لپاره لومړیتوب ټاکي. د پوهنځیو مدیران او پلان جوړونکي د استراتیژیو  نسبي راښکون او لومړیتوب ته په پام د غوره ستراتیژۍ د ټاکنې په اړه پریکړه کوي. د دې تګلارې په واسطه کولی شو له ډول ډول ستراتیژیګانو څخه وړ او مناسبه ستراتیژي غوره او وټاکو.

## د حیواني علومو پوهنځی د ستراتیژیکي برنامی ماډل




۱. ګراف: د حیواني علومو پوهنځی د ستراتیژیکي برنامی ماډل

**۲. سريزه**

د حيواني علومو پوهنځی د ستراتيژي پلان له ستراتيژۍ پراختيايي پړاوو څخه جوړ شوی او موخي ته د رسيدلو لپاره ټاکل کيږي. ستراتيژيکي پلان جوړوني په دولتی فعاليتونو کی په ځانګړي توګه په وزارتونو کي يوه غوره برخه جوړوي

حيواني علومو پوهنځی دغه ستراتيژيک پلان د راتلونکو پنځو کلونو (۱۴۰۱ – ۱۴۰۵) لپاره د پرمختيايي پروګرامونو ليد لوری ټاکي او د ځلورو عمده برخو چي عبارت دي له تدريسی، اداري يا مديريتي برخه، اکاډميک پروګرامونه، بنسټيز تأسيسات او مالي يا بودجوي برخو کي د قوتونو، ناتوانيو، فرصتونو تهديدونو شننی او تحليل په خاطر SWOT انالیز موډل څخه استفاده شوی ده.

دا د حيواني علومو پوهنځی د رهبري، استادانو،علمي شخصيتونو او تجربه لرونکي محصلينو د ګډې هڅې پايله ده. دا ستراتيژيک پلان حيواني علومو پوهنځی ته د خپل ماموريت د پوره کولو او د اوږدمهاله اهدافو د ترلاسه کولو لپاره لارښوونه کوي. ، او د لوړو زده کړو د مخ پر ودې اړتياوو سره د تطبيق لپاره زموږ ژمنتيا منعکس کوي، ترڅو يو جامع، نړيوال معياري زده کړي چمتو کړو او زده کونکي په يو چټک بدلون کونکي نړيوال چاپيريال کي د برياليتوب لپاره اماده کوي.

د حيواني علومو پوهنځی هڅه کوي ترڅو د همدي ستراتيژيک پلان په مرسته نوي پروګرامونه پلي کړي ترڅو د رهبري، تدريسي، علمي څيړنو، مؤثره خدماتو، نويو تحصيلي ځانګو، نويو تدريسي اتاقونو، لابراتواري آسانتياوو، د استادانو او اداري کارمندانو د ظرفيت لوړونې پروګرامونو، د ملي او نړيوالو نهادونو سره د تفاهمنامو او دې ته ورته ډيرو نورو علمي او اکاډميکو پروګرامونو له لارې خپل رسالت ادا کړي.

**۳. د انستو پوهنتون پيژندنه**

د افغانستان د کرنيزو علومو او ټکنالوژۍ ملي پوهنتون (انسټو) د ۲۰۱۴ کال د فيبروري په ۲نيټه د وخت ولس مشر، د هند هيواد د بهرنيو چارو وزير ښاغلي سلمان خورشيد او د افغانستان د لوړو زده کړو وزير دوکتور پوهاند عبيد الله عبيد لخوا په کندهار ولايت کي د پخواني ترنک فارم په ساحه کي د يو لړ شانداره مراسمو په ترڅ کي پرانيستل سو. دا پوهنتون د لوړو زده کړو وزارت په چوکاټ او د افغانستان د ملي ستراتيژۍ په رڼا کي د دي لپاره جوړ سو چي د نباتي، حيواني، کرنيز اقتصاد او وترنري په علومو کي د ليسانس، ماستر او دکتورا په کچه علمي کادرونه وروزي. کرنيزه زده کړه، څيړنه او ترويج د انسټو پوهنتون اساسي ستنو څخه شميرل کيږي. دانسټو پوهنتون استادان، ماستر او دکتور محصلين، د لابراتوار تکنيشنان او کرنيز سکتور په همکاري به په همدي پوهنتون کي څيړني کوي تر څو د کرني په برخه کي شته ستونزو ته د حل لاري وموندل شي. همدا څيړني به په مختلفو برخو کي تر سره کيږي لکه: د ناروغيو کنترول، دنوي ماشينونو او ټکنالوژۍ معرفي کول، د لوړ توليد لاسته راوړل، ټولني ته د نويو حيواني او نباتي اصلاح شوو نوعو معرفي کول او داسي نور. د انسټو پوهنتون د جوړيدو يو عمده هدف همدا دی چي د کرني، مالداری او حيواني

علومو په برخو کې به یو پرمختللي څېړنيز مرکز وي تر څو په هيواد کې د کرنې او مالدارۍ په برخه کې شته ستونزې حل کړای شي.

### ۴.د حیواني علومو پوهنځي پېژندنه

د حیواني علومو پوهنځي د وخت اړتيا ته په کتو سره د افغانسـتان د کرنیزو علومو او تکنالوژي ملي پوهنتون په تشـکیل کې په کال ۱۳۹۲ هـــــ ش کال چې د ۲۰۱۴ م کال سره سـمون لري د لوړو زده کړو وزارت محترم مقام د ($\frac{۴۰۲}{۱۱۷۲}$) ګڼه او ۱۳۹۱ نیټې د حکم په اسـاس سره ایجاد شـوه. د حیواني علومو پوهنځي د شروع سره سم څلور څانګې (مالداري، حیواناتو نسل اصلاح او روزنه، ذخیره او پروسیس او د الوتونکو، کبانو او شـاتو مچیو روزنه ) رسـماً منظور شـوي، د وخت د مسـؤلینو له اړخه د لوړو زده کړو وزارت ته د منظوري اخیستلو په موخه ($\frac{۱۱۱}{۲۲۷}$) ۱۲/ ۱۳۹۷/۲ ل. ګڼه نیټه لیک له مخې د حیواني علومو پوهنځي کښې د فوق السانس په کچه د مالدارۍ څانګه منظوري او د ماستري د زده کړو ته د محصلانو د جذب حکم اخیستل شوي. او په همدي اساس او امکاناتو ته په کتو سره د دي پوهنځی یوازي یوې (د ما لداري) څانګي ته په ۱۳۹۷ ل. کال د لوړو زده کړو وزارت په حکم د کانکور ازموینې له لاري ۱۰ تنه محصلان د ماستري زده کړي پروګرام ته جذب شوي. یاد پوهنځي په خپل تشکیل کې پوهنیار عصمت الله رسا د سرپرسـت رئیس په توګه، همدارنګه د مالداري، د حیواناتو نسـل اصـلاح او روزنې، ذخیره او پروسـیس او د الوتونکو، کبانو او شـاتو مچیو روزنې څانګو د اکاډمیکو چارو د مخته وړلو لپاره (۱۸) تنه علمي کادري استادان لري، سربیره پر دي د تدریسي چارو عمومي مدیر، اجرائیه مدیر او خدماتي کارمند په واک کې لري. د حیواني علومو پوهنځی هڅه کوي، چې ټول علمي او اداري چاري د اوسني عصرې نړۍ کاریدونکي علمي پروګرامونو پر مټ د هیواد او د لوړو زده کړو وزارت د سـتراتیژیو په پام کې نیولو سره مخته وړي. هیره دي نه وي چې پوهنځي اوس مهال (۱۳۰) تنه محصـلین په خپلو زده کړو باندي بوخت دي .

دا چې په نړیواله سطحه اداری کارونو ته یو مشخص میکانیزم موجود وی او د کارونو د لا ښه ترتیب لپاره یو ټاکلی سـتراتیژیک پلان موجودیت هم ضروری دی په همدې اساس د حیواني علومو پوهنځی هم د ټولو کارونو د میکانیزم او موثره مدیریت لپاره سـتراتیژیک پلان لری چی په مرسـته یی کولای شـی د مشکلاتو ، خطرونو او نیمګړتیاوی حل او راتلونکي لپاره د ښه لید لوري په ټاکلو کې د پوهنځي سره زیاته مرسته کولای شی او د دی ترڅنګ کولای شی چی په راتلونکي کې خپل بنسټیز لومړیتوبونه په ښه کړي او د هغوی په وړاندي د راتلونکي احتمالي ستونزو ، خطرونو او تهدیدونو څخه د دفاع لپاره پیشبیني کړي او مخکی له مخکی ورته لازمی تدابیر ونیسی.

### ۴. د پوهنځي تشکیل

په ۱۳۹۲ کال کې د حیواني علومو پوهنځي له ایجادولو سره سم د لوړو زده کړو وزارت له لوري ۲۲ بستونه اختصاص شول، چې لدې جملې څخه د ریاست لپاره یو بست، ۱۹ د علمي کادر غړي، تدریسی مدیریت بست، اجرائیه مدیریت بست، د لابرانټ یو بست، خدماتي کارکوونکي یو بست، محافظ لپاره یو بست شامل دي. د حیواني علومو پوهنځي د تشکیل چارت په لاندې ډول دی:




چارت ۱: د حیواني علومو پوهنځي اداري تشکیل

## ۵. د پوهنځي فعالیتونه

د حیواني علومو پوهنځی د انستو پوهنتون تر چتر لاندې د لوړو زده کړو وزرات د اصولو او قوانینو په رڼا کې فعالیت کوي تر څو په ملي او په ځانګړي ډول د سهیل لویدیځې حوزې په کچه د حیواني علومو په برخه کې مؤثرې کړنې ترسره کړي. د حیواني علومو پوهنځی په دریو عمده برخو کې خپل فعالیتونه لري چې عبارت له تدریس، څیړنې او ترویج څخه دي.

a) تدریس: د حیواني علومو پوهنځی اوسمهال د لیسانس او ماسترۍ په کچه محصلین روزي او په نږدې راتلونکي کې د دوکتورا برنامې هم په پلان کې لري. د تاکل شوي نصاب پر بنسټ د تدریس د عصري میتودونو پواسطه محصلینو ته تدریس کول او په دې برخه کې له نویو او معتبرو کتابونو څخه استفاده کول تر څو معاصر او پرمختللي معلومات او سرچینې محصلینو ته په خدمت کې ورکړل شي.
b) څیړنې: د حیواني علومو پوهنځی د لابراتوار او د څیړنې مرکزونو څخه په استفاده د نړیوالو باوري څیړنو پر بنسټ څیړنې ترسره کوي او په ملي او نړیوالو ژورنالونو کې یې نشر ته سپاري.
c) ترویج: د حیواني علومو پوهنځی هڅه کوي چې د حیواني په برخه کې علمي تجربې او تیوري په عمل کې پیاده کړي او ټولنې ته یې وړاندې کړي.

### ۱.۵. د حیواني علومو پوهنځي تحصیلي نصاب

د حیواني علومو پوهنځی په پنځه کلن تحصیلي دوره کی بیلابیل مضامین تدریس کیږی د لوړوزده کړو وزارت د کریدیت سیستم د لایحی په اساس په څلورو ګروپو ویشل شوی چی په ترتیب سره پوهنتون شموله مضامین 23 ٪ اساسي مضامین 26 ٪ تخصصي مضـــامین، 49٪ اختیاری مضامین 2 ٪ ده چه په لاندی جدول کی توضیح شوي دي.

| شمیره | د مضمونونو ډول | د کریډیت شمیر | فیصدي |
|---|---|---|---|
| ۱ | پوهنتون شمول | ۳۷ | ۲۳ |
| ۲ | اساسي مضامین | ۴۳ | ۲۶ |
| ۳ | تخصصي مضامین | ۸۱ | ۴۹ |
| ۴ | اختیاری | ۳ | ۲ |
| | **مجموعه** | ۱۶۴ | ۱۰۰ |

### ۲.۵. د پوهنځۍ ستراتیژیکی موخی

د حیواني علومو لپاره ستراتیژیکې موخې د همدې پوهنځۍ ستراتیژیک پلان د کمیټې، رهبري هئیت او د پوهنځی د نورو د نظر د خاوندانو په ګډو هڅو او زیار سره ترتیب شوي دي. په دې پلان کي درې عمده

برخي د پرمختګ د مختلفو اړخونو په توګه پېژندل شوي لکه په لوړه کچه د ځوان کادرونو روزل، مسلکي او کاري روحیې خپرول او هغو اهدافو ته چې په لیرلید او رسالت کې واضح شوی دي ځان رسول. پوهنځۍ ستراتیژیک پلان جوړونې څخه موخه د لوړو زده کړو د بهیر چټکتیا او ښه والی دی تر څو په ټولنه کې دشته ناورینونو او ستونزو پای ته رسېدو په برخه کې خپله ونډه واخلي، پوهنځۍ د ټاکلو ارزښتونو لید لوري او معیارونو په پام کې نیولو سره داسې وړ مسلکي او معیاري کادرونه روزي چې د ټولنې په پرمختګ او د ستونزو په حل کې د خدمت وړاندې کولو جوګه شي. د پوهنځۍ لرلید او رسالت ته په کتو سره پوهنځۍ اړونده فعالیتونو د ښه انسجام او د ښو تحصیلي، تحقیقي او کاري پرمختګونو ترلاسه کولو په پار لاندې عمده ستراتیژیکي موخې ټاکلي دي:

1. **ظرفیت لوړونه**
   a. د حیواني علومو پوهنځي علمي کادرونو ظرفیت لوړونه.
   b. د حیواني علومو پوهنځي اداري او مسلکي کارکوونکو ظرفیت لوړونه.
   c. د حیواني علومو پوهنځي د محصلینو ظرفیت لوړونه.
2. **د کیفیت لوړاوی**
   a. د کیفیت لوړاوي په هکله پوهاوی ورکول.
   b. د پوهنځي په کچه د کیفیت لوړاوي اعتبار لاسته راوړل.
   c. د کیفیت لوړاوي پروسې نظارت کول.
3. **څېړنه او تقیق**
   a. د حیواني علومو پوهنځي علمي مجله رامنځته کول.
   b. د حیواني علومو پوهنځي لپاره په عصري وسایلو سمبال لابراتوار رامنځته کول.
   c. د حیواني علومو پوهنځي لپاره په ډیجیټلي وسایلو سمبال کتابتون رامنځته کول.
4. **تدریسي پراختیا**
   a. د حیواني علومو پوهنځي لپاره د غوښتنې وړ اداري، مسلکي او علمي کادري بستونو غوښتنه او ګمارنه.
   b. په عملي او نظري تدریس کیفیت کې پرمختګ راوستل.
   c. د پوهنځي د تدریس، څېړنو او اداري برخو کې معلوماتي ټکنالوژي ته وده ورکول.
5. **ټولنې ته خدمات وړاندې کول**
   a. ټولنې سره د مرستې په منظور د مشورې ورکولو، نظري او عملي سیستم رامنځته کول.
   b. د مجهز حیواني فارم ودانول.
6. **غوره حکومتولي**
   a. په تحصیلي، اداري او نورو اړوند چارو کې د ځوانانو برخه زیاتول.

b. له اداري فساد سره په سیستماتیک ډول مبارزه کول.

7. **تاسیساتي پراختیا**

a. د تدریسي تعمیر ودانول.

b. د تحقیقاتی فارمونو اعمار او تجهیز

c. د مجهز لابراتور تعمیر ودانول.

d. د حیواني علومو پوهنځي لپاره د کتابتون تعمیر.

8. **اړیکې او ارتباطات**

a. په ملي کچه د حیواناتو اړوند اکاډمیکو، څیړنیزو او اداري بنسټونو سره اړیکې پراخول.

b. په نړیواله کچه د حیواناتو اړوند بنسټونو سره اړیکې جوړول.

### ۳.۵. نوښت راوړل او د هغه تطبیق

پوهنځی به نوښتګر استادان او کارکوونکي دې ته هڅوي تر څو چې په خپلو ورځنیو چارو کې علمی، تحقیقي او اداري نوښت رامنځته کړي او هغه نوښت به د پوهنځی، پوهنتون، سیمي او هیواد په کچه نورو مسلکي کارکوونکو ته ور وپیژني. د دې موخي د ترلاسه کولو له پاره به پوهنځی لازم سهولتونه، امکانات او ټکنالوژي آماده او لاندني کړنې ترسره کوي ترڅو نوښتګر ځوانان نور هم و هڅول شي، خپل استعدادونه په کار واچوي او په پوهنځی کې د نوښتونو فرهنګ عام شي:

- ✓ د نوښت د څرنګوالي په اړه استادانو او محصلانو ته په داخل او بهر کې د روزنیزو برنامو امکانات برابروي.
- ✓ د نوښتګرو استادانو او محصلانو ځانګړي کمېټې ایجادوي او د تشویق (هڅونې) لپاره لارښوونې ترلاسه کوي.
- ✓ د نوښتګرو ځوانانو له پاره د لازمې او ضروري تکنالوژی او سهولتونه آماده کوي.
- ✓ د نوښتګرو له پاره په ملي، سیمه ایزه او نړیواله کچه د مادي او معنوي امکاناتو ترلاسه کوي.
- ✓ کېدای شي نوښتګر ځوانان(استادان او محصلان) د خپلو مقالو د چاپ په موخه ځانګړې مجله او یا د پوهنتون د علمي مجلې (زرغون نوښت) څخه په کار اخیستلو سره خپلې مقالې خپرې کړي.

### ۴.۵. اداره او رهبري

په هره اداره کې موخو ته د رسېدو لپاره مدیریت او رهبري له بنسټیزو عناصرو څخه ګڼل کیږي. نن ورځ اداري او سازمانونه له سالم او اغیزناک مدیریت د نشتون او هم د منسجمې او ښې اداري او رهبري پرته نسي کولای چې خپلې موخې ترلاسه کړي حیواني علومو پوهنځی، د افغانستان د کرنیزو علومو او تکنالوژي ملي پوهنتون، د هېواد قوانینو او د لوړو زده کړو وزارت ستراتیژیو ته په پام سره خپلې چارې ترسره کوي او د ښې رهبري په پلي کولو او سالمې رهبری د رامنځ ته کولو په برخه کې بې دریغه هڅې او کوښښونه کوي.

په دې برخه کې د اړتیا وړ ورکشاپونه، روزنیز پروګرامونه او نورې مسلکي ښونیزې برنامې استادانو علمي کادري غړو او کارکونکو ته په پام کې نیول شوي دي.

## ۵.۵. مالي او علمي خپلواکي

له انستو پوهنتون سره د مالي خپلواکۍ په تر لاسه کولو کې مرسته او حمایت کول. د لوړو زده کړو وزارت د شرایطو په تکمیلولو سره پوهنتونونو ته مالي او علمی خپلواکي ورکوي.

د دي پلان د تطبیق سره به د حیواني علومو پوهنځۍ او انستو پوهنتون وکړای شي چې د پولي عایداتو منابع تر لاسه او په خپلواکه توګه یې په مصرف ورسوي. د حیواني علومو پوهنځۍ هم د دې ستراتیژیک پلان د پلي کیدو سره سم غواړي یو شمېر عایداتي سرچيني پیداکړي. په دي برخه کي تر ټولو لومړۍ اړتیا د مالي خپلواکۍ لپاره د عایداتي سرچینو پیداکول.. د حیواني علومو پوهنځۍ خپلو امکاناتو او اسانتیاوو ته په کتو د مالي سرچینو په لټه کي ده او غواړي له دي اړخه پوهنتون د مالي اړخه په خپلو پښو ودروي.

## ۶.۵. د فساد پر وړاندې مبارزه

د اداري فساد شومه پدیده د نړۍ په اکثریت هیوادونو کي په مختلفو اشکالو شتون لري. اداري فساد یوازي په مالي برخو پوري تړلي نه دي د مثال په ډول په خپل وخت چارو ته نه رسیده ګي، د مراجعینو ستونزو ته پر خپل وخت نه رسیده ګي او د هغوی وخت ضایع کول، په تدریسي پروسه کي د وخت نه مراعات، په چارو کې سهولت او بي پروایی کول، له وړتیا او ظرفیت پرته مسولیتونه اخیستل، په علمي او اکاډمیکو چارو کي غفلت او بې تفاوتي، د محصلانو په ارزونه کي د عدالت نه مراعات او د مختلفو لارو پر هغوی فشار راوړل ترڅو د استادانو او یا با نفوذه خلکو غوښتني پوره کړي، د کادري، اداري او خدماتي پرسونل د استخدام په پروسه کي د شفافیت نه مراعات کول، په تحصیلي، اداري او مالي اسنادو کي لاسوهنه، د مادي او مالي امتیازاتو په ورکړه کي د انصاف او عدالت نه مراعات کول، د دولتي شتمنیو او ملکیتونو څخه ناوړه ګټه اخیستل او... شامل دي. نو لازمه ده په ورځنیو پلان کړل شویو چارو کي د فساد سره د مبارزې له پاره تګلارې او کړني ترسره کړو.

## ۷.۵. د کار کونکو د استخدام او د هغوي د کړنو څخه نظارت کول

- ✓ د استادانو، مأمورینو او خدماتي پرسونل د استخدام پروسه په پوره شفافیت سره ترسره کول.
- ✓ د کادری بستونو له پاره د قانون او لایحې مطابق استخدام ترسره کول.
- ✓ د ټولو علمي او غیر علمي کارمندانو د شفافي ارزوني په اړه کړني ترسره کول.
- ✓ په جدي توګه د مکافاتو او مجازاتو د پالیسي مراعاتول.

## ۸.۵. د آزموینو د اخیستلو، ارزولو او څیړنېزو چارو نظارت کول

- ✓ د پوهنځۍ په کچه د آزموینې د کمېټې ټاکل.
- ✓ د لایحو او قوانینو په رڼا کي د آزموینو تنظیمول، اخیستل او پایلي اعلانول.

- ✓ د آزموینو د پایلو سره د محصلانو د قناعت په صورت کې د دوی ستونزو او غوښتنو ته قانوني رسیده گي کول.
- ✓ د محصلانو د اسنادو او د آزموینو د پایلو د سوابقو سره په جدي بڼه د ساتلو امکانات برابرول، عملي کول او نظارت کول.
- ✓ د مقالو لیکلو او علمي ترفیعاتو د پروسو څخه جدي نظارت کول.

### ۹.۵. د اسلامي ارشاداتو او قوانینو په رڼا کي د اداري فساد په اړه پوهاوی لوړول

- ✓ په ټولو څانگو،پوهنځیو، مالي او اداري برخو کی د اداري  فساد پر ضد اسلامي اړخونه په گوته کول.
- ✓ د پوهنځۍ په ټولو چارو کي د اسلامي او اداري  اصولو په رڼا کي د وخت د ضایع په هکله زیانونه بیانول.
- ✓ ټولو کارمندانو ته د اسلامي ارشاداتو او وضعي قوانینو په رڼا کي په ټولو اړونده چارو کي د شفافیت او عدالت په اړه هر اړخیزه معلومات ورکول.

### ۱۰.۵. محصلانو ته د اداري فساد سره د مبارزي په اړه شرعي او قانوني معلومات ورکول

- ✓ د سمستر په جریان کښي لږ تر لږه دوه سمینارونه دایرول.
- ✓ په ټولنه کي د اداري  فساد د ریښو د کیندلو په موخه د پوهنځۍ ټولو محصلانو ته د اسلامي روحیې سره سم روزنه ور کول.
- ✓ د عصر د غوښتنو سره سم د اداري فساد پر ضد محصلانو ته اسلامي روحیه ورکول.
- ✓ د هر مضمون د تدریس او د نورو چارو د شروع څخه د مخه د اداري  فساد پر ضد د مبارزې په موخه د یو څو دقیقو له پاره اسلامي اصول بیانول او محصلانو ته ښه اسلامي او انساني روحیه ور کول.

### ۱۱.۵. د تحصیلی نصاب بیاکتنه، تدوین او پراختیا:

په نړۍ کې د اړتیاوو په تغیر، تکنالوژی او اسانتیاوو په پرمختگ او نورو اړخونو ته په کتو لازمه ده چې د خپلو علمي پروگروامونو کریکولمونه د وخت، ټولني او نورو ښکیلو خواوو د غوښتنو او اړتیاوو په پام کي نیولو سره د کریکولم د بیاکتنې په ترڅ کي د نصاب موضوعاتو کي وخت په وخت نوي او مثبت بدلونونه را منځته کړي. پوهنځۍ د خپلو اړوندو علمي پروگرامونو د مثبت بدلون او د شرکاوو غوښتنو ته د ځواب ویلو په موخه په راتلونکو پنځو کلونو کي لاندې کړنې ترسره کوي:

- ✓ د پوهنځۍ په کچه د کریکولم د کمیټو پیاوړي کول.
- ✓ د کریکولم کمیټو غړو لپاره د اصلاحاتو په موخه نوي کړنلارې او پالیسی تهیه کول.

- ✓ د پوهنځی په کچه د علمي کادر غړو لپاره د کریکولم د نوي والي او سمون په موخه د لازمو ترینینګونو چمتو کول.
- ✓ د کریکولم په بیاکتنه او پراختیا کې د متخصصو اشخاصو فارغانو او کارګمارني مراجعو سره مشورې کول.
- ✓ له اړتیا سره سم له نړیوالو پوهنتونونو سره د کریکولم په بیا سمون او انکشافي ملتیا له نړیوالو معتبر و پوهنتونونو څخه د نویو چاپ شویو خپرونو او کتابونو ترلاسه کول.
- ✓ له کریکولم څخه د مطلوبو موخو د لاسته راوړلو په غرض ارزونه.
- ✓ له ټاکل شوي کریکولم سره سم د درسي موادو تهیه او برابرول.
- ✓ د کریکولم د پلي کېدو څخه د ډاډ په موخه د اړوندو علمي پروګرامونو څخه راپورونه راټولول.

### ۱۲.۵. د تحصیلي موادو چمتو والی

نن ورځ د نړۍ پوهنتونونه په دې هڅه کې دي چې د باور ترلاسه کولو لپاره خپلو علمي پروګرامونه د کریکولمونو د سمون وروسته اړونده درسي مواد د نویو میتودونو په پام کې نیولو سره چمتو کړي، چې د مناسبو تحصیلي موادو په تدریس سره وکولای شي چې له یوې خوا د وخت شرایط او بدلونونه په پام کې ونیسي او له بلې خوا د خپلو اړوند ښکیلو خواوو غوښتنو ته مثبت ځواب ووایي چې پایله به یې د مربوطه پوهنتون د لوړې درجې او باور تر لاس کول وي. د حیواني علومو پوهنځی به هم په راتلونکو پنځه کلونو کې د ښه باور د ترلاسه کولو په موخه د خپلو علمي پروګرامونو د ښوونیز و موادو د چمتو کولو په برخه کې لاندې کړنې تر سره کوي:

- o د نصاب او درسي موادو د سمون او ښه والي لپاره د کریکولم کمیټې چارو ته پراختیا ورکول.
- o د هیواد د اړتیاوو او غوښتنو سره سم د پوهنځی درسي نصاب برابرول.
- o د کریکولم کمیټي کړنې د نویو میتودونو سره همغږي کول.
- o په پوهنځیو کې د نصاب او کریکولم کمیټي چارو ته ځانګړې پاملرنه او پراختیا ورکول.
- o د درسی موادو د پیاوړتیا په موخه د علمي کادري غړو د تالیفاتو چارو ته خاصه توجه کول او په دې برخه کې د هڅوی هڅونه.

### ۱۳.۵. د پوهنځی د کیفیت د ښه والي لپاره څارنه او ارزونه تر سره کول

پوهنځی د خپلو ملي او نړیوالو تحصیلي معیارونو په رڼا کې د خپلو خدماتو د ښه باور ترلاسه کولو په موخه تل هڅه کوي چې په خپلو علمي او څېړنیزو پروګرامونو کې بهتروالی راولي نوموړې چارې د ملي او یا هم د نړیوالو اعتبار ورکونکو ادارو لخوا د بیا کتنې او ارزونې پروسو په بهیر کې ارزول کېږي چې په پایله کې یې اړوند پوهنځی خدمات او اعتبار بیلابیلې درجې ترلاسه کوي او د علمي او څېړنیزو چارو د نوي والي او

غوره والی سبب گرځي. د پوهنځی په راتلونکو پنځو کلونو کي د ښه باور او اعتبار تر لاسه کولو لپاره د کیفیت د تضمین او اعتبار ورکولو په برخه کي لاندې کړنې تر سره کوي.

- ✓ د پوهنځی، هیواد، سیمه ایزو او بین المللي تضمینونکو ادارو څخه د کیفیت تضمین او اعتبار لاسته راوړل.
- ✓ په ملي او بین المللي کچه د پوهنځی د خدماتو کیفیت او درجې لوړول.
- ✓ د کیفیت او تضمین او لوړولو په موخه د اوږد مهال لپاره د مسلکي کاري ټیم لرل.
- ✓ په ټولنه کي د پوهنځی د اعتبار زیاتولو لپاره د ټولنیزو ستونزو په حل کي فعاله ونډه اخیستل.
- ✓ په پوهنځی کي د ښو زده کړو ټولې اسانتیاوې برابرول.
- ✓ د نظري زده کړو په څنګ کي عملي زده کړو ته اسانتیاوې برابرول.
- ✓ محصیلینو، اداري او علمي کادر غړیو ته کیفیت د ښه والي د معیارونو په هکله عامه پوهاوی ورکول.
- ✓ د پوهنځی په وسیله د اړونده پروسي خدماتي څارنه او ارزونه.
- ✓ د اړونده خواوو هڅونه او ژمنی ترلاسه کول.

### ۱۴.۵. څارنې او ارزونې پیاوړي کول

څارنه او ارزونه د اداري چارو د ښه تر سره کولو لپاره د مدیریت څلورم اصل دی، چي له مخې یې له یوې خوا د تېروتنو او اشتباهاتو مخنیوی کیږي او له بلې خوا ډاډ ترلاسه کیږي، چي چارې په معیاري ډول او له پلان سره سمې پر مخ لاړې شي. پر همدې اساس څارنه او ارزونه د شفافیت رامنځته کولو او ستونزو لمنځه وړلو لپاره مهمه کړنه شمېرل کیږي او د چارو د پراختیا او پرمختګ سبب گرځي پوهنځی له پلان سره سم د خپلو چارو تر سراوي څخه د ډاډ ترلاسه کولو په موخه په دوامداره توګه د څارنې او ارزونې په برخه کي لاندې کړنې ترسره کوي.

i. د رهبری په کچه د چارو څخه لیدنه او تېروتنو د مخنیوي او سمون په موخه لازمې پرېکړې کول.

ii. د اداري کړنو په هکله له پوره دقت څخه کار اخیستل.

iii. د علمي او اکاډمیکو چارو د ګړندیتوب لپاره له اوږدو پروسو ډډه کول.

iv. د څارنې او ارزونې لپاره د ځانګړو کمیټو را منځته کول.

v. د نورمونو او معیارونو ټاکل او تطبیق.

### ۱۵.۵. د برېښنایي زده کړو پراختیا او معیاري کول

دا چي په نړیواله کچه پوهنتونونه د حضوري زده کړو تر څنګ د غیر حضوري زده کړو پروګرامونه پر مخ وړي او د شته امکاناتو پر مټ د خپلو خدماتو پوښښ ته پراختیا ورکوي. دې موخې ته د رسېدو په پار پوهنځی په خپلو خدماتو کي د ټکنالوژی ونډه زیاته او موثره ګټه ترې پورته کوي. د علمي او څېړنیزو

بهیرونو د پیاوړتیا او موثریت لپاره پوهنځی خپلو اړوند ښکیلو خواوو ته د برېښنایي اسانتیاوو په چمتو کولو سره هر اړخیز نوی والی او مثبت بدلون رامنځته کوي. د حضوري علمي پروګرامونو سره په څنګ کې پوهنځی اړ دي چې د انلاین کورسونو او ګډو زده کړو لپاره د انلاین سرچینو اسانتیاوې را منځته او ګټه ترې پورته کړي. د نوموړې چارې د ښه مدیریت په موخه پوهنځی په راتلونکو پنځو کلونو کې لاندې کړنې ترسره کوي.

**د برېښنايي زده کړو کميټې ته پراختيا ورکول:** د برېښنایي زده کړو په اړه علمي کادر غړیو ته د ورکشاپونو برابرول، په ټولو پوهنځیو کې د برېښنایي زده کړو عامول، د برېښنایي زده کړو د پروګرامونو پلي کېدو څخه بشپړه څارنه، د بریښنایي زده کړو د ښه تر سره کولو لپاره د یوې ځانګړې پالیسی (کړنلارې) را منځته کول، د ټولو پوهنځیو محصیلینو ته د بریښنایي زده کړو په هکله معلومات ورکول او د اسانتیاوو برابرول.

**د معلوماتي ټکنالوژي پراختيا:** پوهنځی او پوهنتونونه د خپلو دندو او مسؤلیتونو ته په کتو سره مسؤولیت لري ترڅو د معلوماتي او اړیکو ټکنالوژي ټول اړونده پرمختللي سیستمونه تأسیس او فعاله کړي ځکه ټولي علمي، څېړنېزي، تدریسي، اداري ، خدماتي او مالي چارې د معلوماتي ټکنالوژي سیستمونو ته اړتیا لري او د فرصت په وخت کې د هغه څخه په تخنیکي ښه جدي مراقبت وشي او د ضرورت سره سم په سیستمونو او ټکنالوژي کې بدلون رامنځته شي او د ټکنالوژي د تهیې، نصب او فعالولو ترڅنګ د اړونده برخو د کار مسئولینو ته روزنه ورکول او عندالموقع د نویو معلوماتو شریکول ترڅو په چارو کې وروسته والی او کمښت رامنځ ته نسي، د ویډیو کنفرانس او د لرې زده کړې څخه د ګټې اخیستنې په موخه د (Tele Education) سیستم فعاله او لااقل په یوه وخت کې د دریو اطاقونو(سالونونو) آماده او فعالول ضروري برېښي.د دې سیستم په جدي او فعاله ښه فعالول د اوسني عصر د غوښتونو سره سم چې د لوړو مقاماتو څخه (۱-۳) ساعتونو په جریان کې د کړنو راپور او ګزارش غوښتل کیږي.

### ۱٦.۵. الکترونيکي خدمتونو وړاندې کول

د معلوماتي ټکنالوژۍ خدمات د پوهنځیو د ټولو منسوبینو سره مرسته کوي ترڅو په آساني سره وکولای شي مهم او ضروري معلومات عندالموقع ترلاسه کړي، د اړیکو په نیولو کې آساني را منځته، اداري ، تحصیلي او تحقیقي خدمات آسانه او منسجم کېدای شي.

## ٦. تاسيساتي پراختيا

د زده کړو، څېړنو او د مسلکي عملي کارونو لپاره مناسب تاسیسات د اکاډمیک چاپیریال مهم او حیاتي اړتیا بلل کیږي، هڅه کوو چې د حیواني علوم پوهنځي د بنسټیزو تاسیساتو تر څنګ تفریحي تاسیسات هم رامنځته شي. د تاسیساتي پراختیاوو مهمې برخې له تدریسي، لابراتوار، کتابتون، څېړنیز فارم او نورو څخه عبارت دي.

د معیاري، عصري عملي او نظري تدریس لپاره د پوهنتون د مالي امکاناتو په حدودو او د مختلفو ارگانونو څخه د مرستو د جلب او جذب په تناسب لاندي بنسټيزې اړتیاوي په راتلونکو پنځو کلونو کې د پوهنځی د عاجل ضرورت، د هغه د اهمیت او اولویتونو په نظر کې نیولو سره په دې ترتیب جوړې شی:

1. د مجهز تدریسي بلاک تأسیس، چې ټولې اړینې آسانتیاوې به ولري. په معیاري شکل به په کې تدریسي، اداري او همدارنگه د محصلانو لپاره د عملي زده کړو منظم شعبات او ټولگي وي.
2. د پوهنځی د اداري چارو د سرته رسولو لپاره مناسب ځای(دفترونه او شعبات)، چې د ټولو اداري کړنو لپاره به مجهز او په ټولو اړینو لوازمو سمبال وي، ولري.
3. د عملي درسونو لپاره د حیواناتو روزنې اړونده د وسایلو تهیه کول ، تر څو محصلین ترې د درس په جریان کې استفاده وکړي. د حیواناتو د اصلاح څخه نیولی بیا تر حیواني تغذیه پوري به وسایل ولري.
4. د پوهنځي د موجوده کتابتون پراخول او غني کول. همدارنگه به حیواني ، اداري، څیړنیزو برخو کې د عصر او زمان سره برابر په ملي ژبو او نړیوالو معتبرو ژبو مستند کتابونه ولري .
5. د حیواني علومو لپاره معیاري لابراتوار چې ټول اړین سهولتونه ولري جوړول.

### ۷. د علمی کادر غړو او اداری کارمندانو ظرفیت لوړول

د پوهنتونونو او علمي موسساتو د هر اړخیز پرمختگ یو مهم لامل د اړوندو ادارو بشري ځواک او کار کوونکي گڼل کیږي کار کوونکي د مربوطه ادارو د رهبری چارې په ښه ډول ترسره کوي او هم ورته د موخو تطبیق لپاره بیلابیلي مادي او معنوي سرچینې را منځته او ورڅخه موثره گټه پورته کوي، پر همدې اساس د پوهنځی د پرمختگ او پراختیا لپاره په پام کې لري چې د علمي او اداري کاري ځواک د ظرفیت د کچې د لوړولو په پار لاندې کړنې په راتلونکو پنځو کلونو کې ترسره کړي:

1. د علمي کادر غړو ته به د ماستری او دوکتورا پروگرامونو کې د زده کړو زمینه برابرول.
2. د ښه مسلکي او منلو کادرونو څخه د پوهنځی په پرمختیایي او روزنیزو چارو کې گټه پورته کول.
3. د پوهنځی علمي کادرغړو، اداری او خدماتي کارمندانو ته د نویو اړتیاوو د پېژندنې په اړه د داخلي روزنو او ټریننگونو فرصتونو برابرول.
4. د پوهنځی د منلو کادرونو، استادانو او علمی کادری غړو ساتنه.
5. د پوهنځیو رئیسان او د اړوند څانگو امرینو ته د غوره او پیاوړې اداري ستراتیژي طرحه کولو لپاره رهبري کول.
6. پوهنځی کادری، اداری او خدماتي غړیو ته د اروا پوهنې نویو لارو چارو په اړه روزنه ورکول او هم د زده کړې د معاصر و تخنیکونو برابرول.
7. اداري مدیران په هغه مهارتونو روزل او سمبالول چې د کارونو د ښه پرمخ بیولو وړتیا ترلاسه کړي.
8. په ښوونیزو مهارتونو وړتیاوو او نوې ټکنالوژی باندې د علمي کادرونو سمبالول.
9. د ستراتیژیک پلان او کړنلارو د پلي کیدو په اړه د اداري پرسونل روزل.

10. د غوره زده کړې او ښوونې د زیاتېدنې او وده ورکونې په موخه دلیرې واټن د زده کړې (online) لپاره اسانتیاوو برابرول
11. استادانو ، کارمندانو او محصلانو ته د انگریزي او نورو بهرنیو ژبو د روزنې اسانتیا برابرول.
12. د علمی کادر غړو لپاره د علمي ، څېړنیزو او عملي پروژو د عملي کولو اسانتیاوو برابرول.
13. د سمینارونو، کنفرانسونو، ورکشاپونو سمپوزیمونو او د کورنیو او بهرنیو ښوونیزو کورسونو دایرول.

### ۸. له زیدخل ادارو سره د اړیکو پراختیا او ښه والي

علمي توامیتونه د تجربو شریکولو، ظرفیتونو لوړولو او مرستو په جلب کي د پوهنتونونو سره ډېره مرسته کولای شي. د حیواني علومو پوهنځی په راتلونکو پنځو کلونو کي د شته توامیتونو او تفاهمنامو ساتلو او د نورو توامیتونو کولو لپاره لاندې کړنې ترسره کوي:

- ✓ د بهرنیو اړیکو او مرستو د جلب پوهنځی شموله کمیټو پراختیا او ورته د لازمو اسانتیاوو برابرول.
- ✓ په یادو کمیټو کي د نړیوالو تجربو لرونکو او ژمنو کادري غړیو ځای پر ځای کول.
- ✓ یادو کمېټو ته پالیسي او اړوند ټول اداري اسناد چمتو کول.
- ✓ د یادې کمیتي چارو ته پوره پاملرنه او پراختیا ورکول.
- ✓ د یادې کمیتي پر هڅو د امکان تر بریده د نړیوالو او سیمه ییزو پوهنتونونو او ادارو څخه د توامیت له مخې د مرستو جلبول.
- ✓ د پوهنځی د علمي او تخنیکي سازمانونو او ټولنو سره په اړونده چارو کي د اړیکو تامین او پالل.
- ✓ د مالي خپلواکی د کارونې له لارې د اړیکو پیاوړي کول.
- ✓ له دولتي اړونده ادارو څخه د هر اړخیزو مرستو ترلاسه کول.
- ✓ د اړوند کمېټو غړو ته د پوهنتون د مالي امکاناتو د شتون په صورت کي د بهرنیو سفرونو برابرول.

### ۹. د مرستو جلبول

په اوسني عصر کي هیڅ یوه اداره نشي کولای په یواځې ځان خپلې ټولې چارې په ښه ډول ترسره او خپلو موخو ته ورسېږي نو بناً ټولې اداری مجبور دي چي د خپلو چارو د ترسره کولو په برخه کي داخلي او بهرنی همکاری او مرستې ترلاسه کړي . د حیواني علومو پوهنځی هم د افغانستان د کرنیزو علومو او تکنالوژي ملي پوهنتون تر چتر او اداري لاندې د خپلو چارو د ښه تر سراوي او پر مختگ لپاره کورنیو او بهرنیو مرستو ته اړتیا لري، چي د ترلاسه کولو په موخه یې لاندې کړنې په راتلونکو پنځو کلونو کي ترسره کوي

- د مرستو د جلب او د اړیکو د ټینگولو کمیټو ته پراختیا ورکول.
- له مربوطه ملي او بین المللي ادارو سره توامیتونو لاسلیکول او حد اکثر گټه ترې پورته کول.
- کمېټو ته د اړونده چارو د تر سراوي لپاره د پلانونو او پالیسیو ترتیب او تهیه کول.
- د تر سره سویو توامیتونو او اړیکو څخه د پوهنځی په هر اړخیز پرمختگ کی موثره گټه پورته کول.

- په ملي او نړیواله کچه له پوهنتونونو سره په علمي او عملي چارو کي د همږغی را منځته کول او فرصتونو مهیا کول.
- د پوهنځۍ د فزیکي او معنوي جوړښت او پرمختګ په موخه د حقیقي او حکمي اشخاصو څخه معنوي او مادي مرستو تر لاسه کول.
- د پوهنځۍ سره د مرستو لپاره د اړونده سرچینو هڅول.
- د پوهنځۍ دننه د روښتیا او حساب ورکونې اصل ته انکشاف ورکول.
- د پوهنتون له داخلي عایداتي منابعو څخه د معقولې او ګټورې استفادې له لارې د عوایدو را ټولول.

## ۱۰. د ټولنې په پرمختګ او هوساینه کي ونډه اخیستنه.

د علمی بنسټونو لکه پوهنتون او پوهنځۍ د لیدلوري اساسي موخې دا وي چي څنګه دوی د خپل موثر او اغیزمن ماموریت په ترسره کولو سره د ټولنې هېواد او نړۍ په کچه د ستونزو په حل کي فعاله ونډه واخلي یا دا چي ټولنې او هیواد ته د هر اړخیز پرمختګ لپاره طرحې او برنامې جوړې کړي پوهنځۍ هم خپل لیدلوري ته په پام او د خپل اغیزمن ماموریت پربنسټ د خپلو اړوند و پوهنځیو د علمي کادر د غړو او د مختلفو برنامو (لیسانس، ماستری او دوکتورا) د محصلانو د څېړنو پایلې او موندنې له اړوندو ادارتو سره شریکوي ترڅو لدې لارې د ټولنې شته ستونزې روښانه کړي او په حل کي یې فعاله ګډون وکړي. د نوموړې چارو د اغیزمنتوب لپاره پوهنځۍ څېړنیز کلسترونه دایروي چي پکښې ټولو اړوندو ادارو (رسمي او خصوصي سکتور) ته د ګډون بلنه ورکول کیږي او لدې لارې له هغوی سره د استادانو او محصلانو د څېړنو پایلې او حل لارې شریکوي.

## ۱۱. د استعدادونو ظرفیت لوړونه او پراختیا:

د حیواني علومو پوهنځی د افغانستان د کرنیزو علومو او تکنالوژي ملي پوهنتون په چوکاټ کې لوړو زده کړو ته د لاسرسي په موخه ګڼ شمېر علمي پروګرامونه په بیلا بیلو برخو او وختونو ( سهار او له وخته وروسته) کي پرمخ بیایي لوړو زده کړو ته په شفافه توګه د لاس رسي په موخه پوهنځۍ په راتلونکو پنځو کلونو کي لاندې کړنې ترسره کوي:

1. د لوړو زده کړو د اهمیت په اړه عامه وګړو ته د عامه پوهاوي په پار هر اړخیز معلومات وړاندي کول.
2. د کانکور له لاري په شفافه توګه زده کړو ته د لاسرسي زمینه برابرول.
3. د وړتیا او ظرفیت په پام کي نیولو سره بېلابېلو علمي پروګرامونو ته د محصلینو ورپیژندل.
4. له توپیریز چلند پرته هیواد والو ته په مساویانه ډول د زده کړو حق ورکول او اسانتیاوې برابرول.
5. دوخت او ټولني د غوښتنو او اړتیاوو په پام کي نیولو سره د نویو علمی پروګرامونو ایجادول.
6. د ټولنې او اړونده ادارو سره د لاسته راوړنو شریکول.

7. په ټولنه کښې د شته ستونزو د حل په موخه د وګړو سره د حل لارې شریکول.

### ۱۲. د کریډیت سیستم پیاوړتیا او پلی کول

د کریډیت سیستم نن سبا په نړۍ کې د تدریس او زده کړې لپاره تر ټولو پیاوړی او اغیزمن سیستم ګڼل شوی دی. د نړۍ ډېری پوهنتونونه د کریډیټ سیستم د اصولو په رڼا کي خپل روز نیز پروګرامونه پر مخ بیایي او له دي لاري محصلینو ته د ښو پایلو لرونکو زده کړو او اسانتیاوو زمینه برابروي . د نوموړي هدف لپاره لاندې فعالیتونه په پلان کې دي.

- ❖ د کریډیت سیستم د موثریت په اړه محصلینو ته معلومات ورکول.
- ❖ په اړوند و پوهنځیو کي د کرېډیت سیستم عملي کېدو څارل.
- ❖ د کر یډیت سیستم په ښه بڼه د پلي کېدو په هکله تدریسي او اجرایوي مدیرانو ته پوهاوی ورکول.
- ❖ د پایلو پر بنسټ د زده کړو په نتیجه کي د کریډیټ لا یحي موخې ترلاسه کول.
- ❖ د شاګرد محوری د زده کړو دو دول.
- ❖ د کرېډیټ لایحې په اساس د عملي زده کړو پیاوړي کول.
- ❖ د ټرانسکریپټونو د ترتیب په برخه کي د نمرو درجه بندي د فیصدی تر څنګ د GPA په سیستم برابرول.

### ۱۳. داخلي او بهرني چاپیریال ارزونه

ټول هغه عوامل(خارجي او داخلي) چې کولای شي د پوهنځی د ستراتیژۍ لوری تعین کړي او په هغه باندې اغیز کوي، پدې برخه کې تر بحث او تحلیل لاندې نیول شوی دي.

د دي هدف د لاسته راوړلو لپاره مو د بیلابیلو پوښتنپاڼو څخه استفاده کړي ده، یادې پوښتنیاڼې د محصلانو،استادانو،ادارې کارمندانو او همدارنګه د پوهنځی څخه بهر د نظرخاوندانو او اړونده سکټوري ادارو د کارکوونکو په مرسته ځواب شوې او بیا د هغو تحلیل او تجزیه ترسره شوې ده.

داخلي عواملو کې مو ټول هغه داخلي عوامل چي د پوهنځی په ستراتیژۍ باندي مستقیم او یا غیر مستقیم اغیز لري په ګوته کړي. همدارنګه د همدي ستراتیژیک پلان په تدوین کي د خارجي محیط (فرصتونو او تهدیدونو) پیژندل یو د اساسي موضوعاتو څخه شمېرل کیږي کوم چي بیلابیل سیاسي، فرهنګي، ټولنیز،اقتصادي او ټکنالوژیکي عوامل نظر لمړیتوبونو ته او د هغوی اغیزې پر سازمان باندي په بر کي نیسي، ترڅیړنې لاندي نیول شوي. په لومړۍ مرحله کي ټول هغه خارجي عوامل چي د پوهنځی د ستراتیژۍ په لوري ټاکلو باندي مستقیم اغیزدرلود په نبنه شول.

۱. جدول: **د داخلي عواملو د تحلیل متریکس:**

| شمیره | داخلي عوامل (ځواکمنتیا او کمزروتیاوي) | وزني ضریب | وزني امتیاز | د وزنونو ضریب |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | مسلک ته د محصلینو لیوالتیا او قوانینو او مقرراتو ته ژمنتیا | 0.03 | 3 | 0.09 |
| ۲ | د پوهنځی د پرسونل انکشافي او پرمختیایې روحې موجودیت | 0.03 | 3.5 | 0.105 |
| ۳ | د پروسونل تر منځ د هماهنگي موجودیت | 0.04 | 3.5 | 0.14 |
| ۴ | د علمي او تحقیقاتی چارو سره د استادانو لیوالتیا | 0.06 | 4 | 0.24 |
| ۵ | له تدریسی او اداري پروسونل سره د مسولیت احساس | 0.05 | 3.6 | 0.18 |
| ٦ | د شته استادانو تحصیلي درجي او کاري تجربه | 0.09 | 3.8 | 0.342 |
| ۷ | د پوهنځی نوي تاسیس توب سره د اړینو بنسټیزو تعمیرنو او جوړښتونو (تدریسی، اداري، لابراتوار، فارمونو) عدم موجودیت | 0.19 | 1 | 0.19 |
| ۸ | د لومړنیو اړینو اجناسو (دفتر، د صنفونو میز او چوکی، ...) عدم موجودیت | 0.14 | 1 | 0.14 |
| ۹ | د لابراتوار تخنیکي سامان الاتو عدم موجودیت | 0.09 | 1.5 | 0.135 |
| ۱۱ | د علمی کادرنو او اداري کامندانو کموالی | 0.1 | 1.2 | 0.12 |
| ۱۲ | د مالي سرچینو عدم موجودیت | 0.1 | 1 | 0.1 |
| ۱۳ | د مالي مرسته کونکو ارگانونو سره د اړیکو او همکاریو کمزوری حالت | 0.08 | 1.6 | 0.128 |
| | **جمله** | **1.00** | | **1.91** |

### ۱۴. د پوهنځی لپاره د سوات تحلیل (SWOT Analysis)

د حیواني علومو پوهنځي د ورځنیو چارو او پرمختګ په وړاندي هم قوي او هم ضعیفي ټکې لري او همدارنګه هغه شته فرصتونه او تهدیدونه په ګوته کړي. د(SWOT) تحلیل او ارزونه هغه ګټوره وسیله (لاره) ده چي موږ له خپلو توانمندیو، قوتونو، نیمګړتیاو، فرصتونواو تهدیدونو (خطرونو) څخه خبروي، کوم چي

هره ورځ د چارو په جریان کي موږ د هغو سره مخامخ کیږو. د خبرتیاوو او د وضعې د تحلیل له لارې موږ کولای شو، چي د هغو عواملو څخه کوم چي د چارو په جریان کي زموږ بریالیتوب او توانمندي د ستونزو سره مخ کوي خبرتیا تر لاسه کړو او هم خپلې کمزورتیاوي را کمې او یا هم کاملاً له منځه یوسو او خپلې پرمختیاوې او بریالیتوبونه زیات او ښه وځلوو.

د پوهنځي ټول منسوبین هریو د حالاتو تحلیل (ارزونه) کوي او د هغه د ارزونې د پایلو څخه په ورځنیو چارو کي گټه پورته کوي، باید په پوره صداقت او شفافیت سره له هغه څخه گټه واخیستل شي.

SWOT Analysis

A. قوي ټکي (Strength)

1. د علمي کادرونو موجودیت: په پوهنځی او همدارنگه پوهنځی کې علمي کادرونه وجود لري چې د یو ښه ظرفیت حساب پرې کیدای شي. که څه هم نوموړي کادرونه کم تجربه او تازه نفسه دی، ولي ډیری یې له بهرنیو هیوادونو څخه د ماسټري په کچه زده کړي تکمیلې کړي.
2. په چارو کې د استادانو ژمنتوب.
3. د استادانو ترمنځ همغږی.
4. د پوهنځی د رهبری او ټولو پوهنځیو سره ښې اړیکې لرل.
5. د پوهنځی په ټولو کمیټو کې د پوهنځي د استادانو ځای پرځای کول.
6. د کریکولم سره تر ډیره حده د استادانو د درسي موادو برابرول.
7. د پوهنځي او ځانگو په کچه وخت پر وخت غونډې کول.
8. د نظري او تیوریکي زده کړو ترځنگ شاگردانو ته د عملي او پرکتیکي زده کړو فرصتونو برابرول.
9. د محصلینو د علمي کچي او لوړتیا په موخه د استاذانو له خوا د سمینارونو، کنفرانسونو او داسي نورو علمي غونډو برابرول.
10. د مرستندویه هیواد مالي او معنوي ملاتړ وجود لري: په ټوله کي له انستو سره د هند هیواد کړې ژمني د توقع دي. که چیري په نوموړي سرچینو څخه په کافي او اغیزمنه توگه گټه واخیستل شي، کافي اندازه تجهیزات او امکانات به برابر شي.

B. کمزوري ټکي (Weaknesses )

1. د تدریس او څیړنو لپاره بنیادي او عصري امکانات او سهولتونه نه لرو.
2. د لوړ رتبه استادانو نه شتون.
3. د پوهنځي په کچه د کتابتون نشتون په ځانگړي ډول د مسلکي کتابونو کمښت.
4. استادان ځوانان دي، د تدریس او څیړنو کافي تجربه نه لري.

5. د پوهنځی لپاره تدریسی، اداري، لابراتواري، تحقیقاتي او فارمي جوړښتونو عدم موجودیت. پدې برخه کې تر اوسه هیڅ چاره مخ ته نده تللې چې په لویه کچه کار او سرمایه ګذاري ته اړتیا لري.
6. د علمي، اداري او تدریسي چارو د سرته رسوني لپاره د لازمو خونو او اتاقونو نه شتون.
7. د معیاري تدریسي پروسې د سرته رسوني لپاره د اړینو وسایلو او امکاناتو نسبي موجودیت لکه پروجکټورونه او نور مواد خو بیا هم د هغو د فعال ساتلو او د پروګرامونو د اجرا لپاره د مالي امکاناتو نه شتون.
8. د مسلکي مضامینو او تخصص د اصل په نظر کې نیولو سره د لازم تشکیل او اړوندو ډیپارټمنټونو نه شتون.
9. د علمي او تحقیقاتي فعالیتونو لپاره د مالي سرچینو عدم / لږ موجودیت چې دا چاره کولای شی په مختلفو برخو لکه علمي، تحقیقاتي او ترویجي فعالیتونو منفي اغیز ولري.

C. **فرصتونه (Opportunities)**

1. د لوړزده کړو سیسټم ته د نړیوالي ټولنې پاملرنه (د پوهنځی پراختیا ته) (د هندوستان هیواد سره تفاهمنامه) موجوده ده چې په ترتیب سره به د حیواني علومو پوهنځی هم پراختیا ومومي.
2. په هیواد او سیمې کې د خپلو اولادونو د تربیې او تحصیل په اړوند(د ځوانانو علاقه مندي لوړو زده کړو ته) خلکو زیاته علاقه مندي
3. د پوهنځي د پرمختګ لپاره، د پوهنځی د رهبری او نورو پوهنځیو څخه هر اړخیزه مرستې او لازمې مشورې اخېستل.
4. ژمن او ځوان استادان چې د کار کولو انرژي لري.
5. د پوهنځي سره د محصلینو پراخه ملاتړ او همکاري .
6. د مالدارۍ په برخه کې د تحقیق لپاره په پراخه کچه ساحه او اړتیا موجوده ده. پدې برخه کې تر اوسه پورې ډیر کم معیاري تحقیقات تر سره شوي چې په لویه کچه کار ته یکې اړتیا شته.
7. یو شمیر نړیوالې او دولتې موسسې په جنوب غرب زون کې دکرهنې او مالداري په اهمیت باندې پوه شویدي او دې ټکې ته متوجه دي چې باید یکې پانګونه وشي.
8. د حیواني علومو په برخه کې د کار پراخه ساحه وجود لري چې تر اوسه هم مالداري چاري نسبتا په دودیزه توګه یکې تر سره کیږي. دا چاره یو لوی فرصت دی چې ځوان فارغ شوي مسلکي کادرونه وکولای شي په ساحه کې خپل مسلک پراختیا سره مرسته وکړي

D. **ګواښونه (Threats )**

1. د پورته ذکر شوو فعالیتونو د ترسره کولو په وړاندې یوه تر ټولو لویه ستونزه سیاسي بي ثباتي څخه عبارت ده چې کیدای شي له کوچنیوڅخه نیولي تر لویې کچې پورې ستونزې راولاړې کړي.
2. د نوموړي پوهنتون او پوهنځی لپاره ټاکل شوې ساحه چې له کندهار ښار څخه لوی واټن لري، کیدای شي د لوجستیکي، انرژي انتقال او نورو مسایلو په وړاندې یوه ستونزه وي.
3. پوهنځی مالي او اکاډیمیک استقلالیت ( آزادی) نه لري.

4. د قوانينو او مقرراتو د پوره تطبيق په وړاندې ستونزې وجود لري چې کولای شي په تطبيق باندې يې لوی سيوری اغيز هم ولري.

## ۱۵. د سټراتيژيک پلان د تطبيق پايلې:

د سټراتيژيک پلان د پوره برياليي تطبيق په صورت کې به هغه ستونزې، مشکلات او نيمګړتياوې چې پوهنځی کې موجودې وې حل او له منځه ولاړې شي او سالمه کاري او د زده کړې اکاډميکه فضاء به رامنځته شي.

1. زيات شمېرځوانان به د زده کړې او تحصيل په موخه په خپله غېږکې را ونغاړي او دا شمېر به ځو چنده شي.
2. پوهنځي به ځانګو په مټ د دې وړتيا ولري چې د خپلو فارغانو د زده کړې سويه او د کارکولو مهارتونه لوړ کړي.
3. ډېر شمېر هيوادوالو ته به د کارکولو زمينه مساعده شي.
4. د پوهنتون په کچه به يو سيال پوهنځي وي او د نورو پوهنتونونو د ورته پوهنځيو سره به سالم رقابت وکولای شي.
5. د هيواد په کچه به د دولتي او شخصي سکتور د ضرورت سره سم د ملي کادرونو د تربيه کولو توانمندي ولري.

پوهنځی به د هيواد او په ځانګړې ډول د کرنيزو او حيواني برخو او همدارنګه د درملنې او د خوړو د امنيت او مصؤنيت برخو د تشې د ډکولو او غني کولو کې پوره ونډه ولري .

**۲. جدول: د حيواني علومو پوهنځی د سوات (SWOT) تحليل**

| داخلي لاملونه / خارجي لاملونه | د قوت ټکي (S) | کمزوري ټکي (W) |
|---|---|---|
